دعبدالحّی حبیبی په اهتمام
ژباړونکی: درویش وردګ

۱۰ مارچ ۲۰۱۸

## السَّوادُ الاعظم- ۱۹

پښتوترجمه

تألیف: ابوالقاسم اسحاق بن محمّد بن اسماعیل بن ابراهیم بن زید حکیم سمرقندی

د ۳۷۰ هجری کال په شاه اوخوا دامیرنوح سامانی په فرمان فارسی ته ترجمه شوی

### اووه دیرشمه مسئله

داده: چې ایمان یوشی دی چې په دووغړو(جوارحو) دی. په زړه اوژبه. اوزړه پرته له ژبی هیڅ ګټه نلری مګرچې ګنګ وی اوژبه پرته له زړه هیڅ ګټه نلری په هیڅ عذر.

پس دخدای عزّوجلّ پیژندل دهغه په هستی سره معرفت دی. اوپه زړه سره پوهیدل چې خدای تعالی یو دی، توحید دی.ږ اوپه ژبه اقرار اوپه زړه تصدیق دایمان مهردی.(اوهرڅوک چې یی په زړه وپیژنی اوپه ژبه اقرار وکړی هغه مومن دی).

اوهرڅوک چې په زړه وپیژنی اوپه ژبه اقرارونکړی هغه کافردی. اوهرڅوک چې په ژبه اقرار وکړی اوپه زړه یی ونه وپیژنی هغه منافق دی.

اوجهمیان وایی: ایمان په زړه دی دی نه په ژبه. اوکرامیان وایی چې مجرد قول دی په ژبه. اوشافعیان ایمان اقراربولی اومعرفت اوعمل.

امادسنت اوجماعت طریق دادی. چې زمونږفقهااوپه سرکی امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله اوددہ اصحاب وایی رضی الله عنهم اجمعین: چې ایمان اقرار دی په ژبه اوپیژندنه په زړه اوداعمالو منل دی نه ترسره کول. اومعرفت بی اقراره کافری ده اواقرار بی معرفته منافقی دی. او اقرار له معرفت سره مومنی ده. اوددی مثال داسی دی: څرنګه چې خنګ آس ته اشهب وایی اوچې توراوسپین وی هغی ته ابلق وایی. پس یوازی په ګفتاریې منافق بولی، اویوازی په پیژندنه یی جهمی بولی. اوکله چې دزړه دپیژندګلوی سره په ژبه اقرار وشی، مخلص مومن یی وایی.

پس پوه شه چې پرته له معرفت څخه اقرار ګټه نلری اومعرفت پرته له اقراره سود نه کوی. کله چې آهک اوزرنیخ دواړه وی چې ویښتان غوځ کړی. یوازی آهک اویوازی زرنیخ ویښتان نه وړی.

پس اقرار په ژبه باید اوتصدیق په زړه وی ترڅو مومن مخلص شی. اما عمل نه دایمان څخه دی اوعمل پرتن دی. ځکه چې خدایتعالی ویلی: اِنَّ الَّذِينَ آمَنُو. هغه کسانو چې ایمان راوړی. پس: وَعَمِلُوا الصَّالِحَا. نو وویل: چې نیک عمل

یی وکړی. نوپوه شو چی ایمان په زړه دی اوپه ژبه اوکردار په تن دی. پس دژبی گفتارپرته دزړه له شناخته منافقی ده. اوپه زړه پیژندنه پرته له اقراره کافری ده. اوپه ژبه وینا دزړه په پیژندگلوی سره مومنی ده.

که وپوښتل شی: چی ایمان وروسته ترمرگه له روح سره ځی اوکه په کالبد کی پاتیږی؟ ځواب ورکړه: چی ایمان اقرار په ژبه دی اوتصدیق په زړه. چی کله مړ شی نودژبی اقرار له روح سره اودزړه تصدیق له کالبد سره په قبرکی وی. ترڅوروح هم دایمان سره وی او کالبد هم دایمان سره وی.

که سوال وشی: چی دایمان منزلت لوړ دی اوکه دعلم؟ ته هم ځواب ورکړه! چی دعلم منزلت ترایمان لوړدی.ځکه چی حق تعالی مصطفی علیه الصلوة والسلام ته وویل: فَاعلَم اَنَّهُ لَااِلهَ اِلاّ الله. یوه شه چی پرته له الله څخه بل خدای نشته. اول یی وویل : پوه شه. پس دلیل شو چی علم په ایمان لوړ دی. اوبل دلیل دادی: چی خدای عزّوجلّ ټول په ایمان کی سره برابر کړل اوپه علم کی یی متفاوت. اوپه دی معنی کی ډیردلایل راغلی. ولی همدومره بس دی هوښیارلره.

## آته دیرشمه مسئله

داده: چی پوه شی چی خدای تعالی هیڅ شی ته نه دی ورته اوهیڅ شی ده ته ندی ورته. لَیسَ کَمِثلِهِ شَیئٌ وَهُوَ السّمِیع البَصیر. پس هرڅه چی ستا په خاطرگرځی ، چی خدای داسی دی( نه داسی نه دی بلکه) دهغی شی اوټولو شیانو پیداکوونکی اوخالق دی اوهیڅکله خالق له مخلوق سره ورته والی نلری. اوهرڅوک چی خدای له کوم شی سره ورته کړی، کافر اومشبهی دی. پس هرڅوک چی عزّوجلّ خدای ته سترگی یا لاسونه اویانورغړی مجسم کړی اوآیات په ظاهره سره تفسیرکړی، هغه گمراه دی اوله مسلمانی خبر نلری اوخدای عزّوجلّ مُصَوِر دی نه مصُور.

که څوک درته ووایی: چی دخدای تعالی صفت راته ووایه! ځواب ورکړه چی عزّوجلّ خدای خپله دځان صفت کړی: قُل هُوَاللهُ اَحَد. اوبل ځای وایی: هُوَالْاَوَّلُ وَالْآخِرُ وَالظّاهِرُ وَالْباطِنُ. لَااِلهَ اِلَّاالله وَحدَهُ لَاشَرِیکَ لَهُ اِلهاً واَحِداً صَمَداً فَرداً. لَم یَتَّخِذْ صَاحِبَةً وَّ لاّ وَلَداً وَنَحنُ لَهُ مُسلِمون.

## نه دیرشمه مسئله

داده: چی پوه شی چی خدای عزّوجلّ لره مکان نشته اوراشه او وشه نشته. اوپه هیڅ شی چی مخلوق متصف وی دهغی صفت ونکړی. ځکه چی ټول ایمان دوه چیزونه دی: پیژندل او نه پیژندل. ویی پیژنی چی خدایتعالی شته. اونه یی پیژنی چی څرنگه دی.

اوخدای تعالی موسی علیه السلام ته وویل: دوه وپیژنه اودوه مه پیژنه.! زه خدای یم اویویم. اما مه پوهیږه چی زه څرنگه یم. اوپوه شه چی زه دخلایقو روزی رسان یم. ولی مه پوهیږه چی له کوم ځایه.

اوځینوعلماو هم داسی ویلی چی: اَلتَوحیدُ نَفیُ التَّشبیهِ وَترکُ التَعلِیل. پس حق تعالی عرش پیداکړی، چی داوبو پرسرواوگرځیده. اوقوله تعالی: وَکَانَ عَرشُهُ عَلَی الْماَءِ. حق تعالی فرمان ورکړترڅو دعرش په عصابه ولیکل شی: الرَّحمانُ عَلَی العَرشِ استوی. نو آرام شو. اورسول علیه الصلوة ولسلام ویلی: اَلحَقُّ فِی کُلِّ مَکانٍ موجُودٌ وَلَیسَ فِیهِ بِمَحدودٍ. اومعنی یی داوه: چی حق تعالی په ټولو مکاناتوکی موجود دی په علم اوقدرست سره. اوهغه په مکان کی ندی، اوعرش دهغی مکان ندی، بلکه عرش دده جویان دی اودده په قدرست سره قایم.

اوکه کوم ملحد خدای تعالی لره د(آمد وشد) صفت قایل شی. ځواب ورکړه هغه ملحد ته، چی داڅه چی وایی له دریو حالتونو څخه بیرون ندی: یا که وی چی هلته شته،نه لیدل کیږی. پورته اویا کښته شی ترڅو ولیدل شی، نیږدی راشی ترڅو واوری یاهلته چی دی وی به ترڅو لوړشی اوقادرشی. اوهرڅوک چی عزّوجلّ خدای په دی صفتونو سره

متصف کړی هغه کافردی. اماهغه څه چی آیات او اخبار متشابه دی باید دلیل ته راوګرځو. اوهغه بهتره ده چی په هغی ایمان ولرو اوپه ظاهره تفسیرونکړو. اوهرڅوک چی باورونلری هغه معطله دی.